مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی
۲۰۲۴/۰۴/۰۸

# غزل

د ورځې په لټون کښې وم، په شپو پسې روان شوم
په پوچو عقیدو او ترانو پسې روان شوم

جنون دی باغي شوی، لیونتوب سر ته ختلی
جامونه رانه مات شول، پیرخانو پسې روان شوم

د جهل توري شپې دي په هر لوري خپرې کړې
بې وسه یم نو ځکه ستا کیسو پسې روان شوم

د هیلو سرو غوټیو کښې لا ساه لرم، ژوندی یم
د حال وبدلېدو ته له ژوندو پسې روان شوم

ارمان دی پسرلیه چې ارمان ته ورسېږم
وطنه ستا بچو هسکو شملو پسې روان شوم

مصطفی پسرلی
06/April/2024


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ